Center for Prevention Programs and Partnerships

# د TVTP د وړیا مرستو پروګرام د غوښتنلیک حقیقت پاڼه

دا حقیقت پاڼه د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي (TVTP) د وړيا مرستو غوښتنليک د پروسې او شرايطو په اړه معلومات وړاندې کوي. په دې کې د غوښتنليک د تعقيب او د پروګرام د ډولونو، د غوښتنليک لپاره د اړينو موادو او مهمو نېټو په اړه معلومات هم شامل دي.

د مهرباني له مخې په پام کې ونيسئ: وروستی غوښتنليک او د وړيا مرستو د ټول پروګرام راپور ورکول او د څارنې مواد بايد په انګليسي ژبه کې وسپارل شي.

## د پروګرام لومړیتوبونه

د کورني امنيت وزارت (DHS's) د مخنيوي د پروګرامونو او مشارکتونو مرکز (CP3)، د مالي تمويل، روزنې او په عامه وېښتابه کې د زياتوالي او د حکومت، خصوصي سکتور او سيمه ييزو ټولنو په ټولو کچو کې د شراکتونو له لارې په ټول هېواد کې د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ د مخنيوي په برخه کې زموږ د هېواد وړتيا پياوړې کوي. د عامې روغتيا د څېړنې په مټ د باخبره يا شعوري چلند څخه د کار اخيستنې په مټ، CP3 په ټول هېواد کې د رواني روغتيا خدماتو چمتو کوونکي، تعليم ورکوونکي، مذهبي مشران، د عامې روغتيا او خونديتابه چارواکي، ټولنيز خدمات، غير انتفاعي ادارې او په ټولنو کې نور سره يوځای کوي، تر څو له هغو خلکو سره د ضرر له پېښېدو مخکې مرسته وکړي، څوک چې د تاوتريخوالي پر لاره روان دي. د TVTP وړيا مرستې پروګرام پر شرايطو برابرو غوښتنليک سپارونکو ته په سيمه ييزو ټولنو کې د دايمي، ګڼ رشته اې TVTP وړتياوو ته وده ورکولو، د مخنيوي ازمايښتي نويو طريقو او د مخنيوي د غوره کړنو په نښه کولو کې مرسته، روزنه او وسايل چمتو کوي، کوم چې د ټول هېواد په ټولنو کې تکرارېدای شي.

په پخوانيو دورو کې د غوښتنليکونو او مرستې په ورکړو کې د تشو له ارزونې وروسته، CP3 د ورکړې د غوره کولو لپاره لاندې لومړيتوبونه رامنځ ته کړي دي:

- د جرم په تکرار کې کمی او بيا ادغام وړتياوو لوړول
- د مرستې په ورکړو کې برابرۍ ته وده ورکول او په مخنيوي 1 کې د محرومو ټولنو شاملول
- د هدفي تاوتريخوالي او ترهګرۍ ان لاين اړخونو ته رسېدنه کول
- د کورني تاوتريخوالي له سختدريځۍ څخه مخنيوی کول

د TVTP وړيا مرستې پروګرام هغو غوښتنليکونو ته مالي مرسته چمتو کوي، چې د دې لومړيتوبونو تر څنګ د شپږو موخو (چې لاندې بيان شوي دي) سره سمون ولري، او د محرميت، مدني حقونو او مدني ازاديو ساتنه کوي. غوښتنليک سپارونکي اړ دي چې د اړتياوو دقيقه ارزونه وکړي، تر څو په نښه کړي چې د دوی په سيمه کې له مخکې څخه کومې سرچينې موجودې دي او کومې تشې ډکولو ته اړتيا لري. ټولې پروژې د اړتيا وړ کارکړنې معيارونه لري.

1 له يوې محرومې ټولنې څخه موخه هغه خلک دي چې په يوه ځانګړې ځانګړني کې سره ګډ وي او همدا راز هغه جغرافيايي ټولنې، چې په منظم ډول د اقتصادي، ټولنيز او مدني ژوند په اړخونو کې د ګډون لپاره د بشپړو فرصتونو څخه محروم کړای شوي وي. د لا زياتو معلوماتو لپاره د لارښود سند 40 مخ وګورئ.

د TVTP وړيا مرستو د پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دې بريښناليک پتې ته ليک واستوئ،
**TerrorismPrevention@hq.dhs.gov**

له موږ سره اړيکه ونيسئ
**dhs.gov/CP3 /// dhs.gov/TVTPGrants**

## په شرایطو برابر سازمانونه

ایالتي او سیمه ییز حکومتونه، په فدرالي کچه منل شوي اندین قبیلې، او د [2 C.F.R. § 200.1] له خوا تعریف شوي د لوړو زده کړو اداري؛ او د IRS(501(c)(3 حالت لرونکي غیر انتفاعي اداري د مالي مرستي لپاره غوښتنه کولای شي.

## د کارکړنې موده

د TVTP وړیا مرستي پروګرام د کارکړني موده 24 میاشتي ده، کومه چي د بې لګښته تمدید لپاره محدود شتون لري.
د کارکړني احتمالي مودې د پیل کېدو نېټه: اکتوبر 1، 2024
د کارکړني احتمالي مودې د پای نېټه: سپټمبر 30، 2026

## په شرایطو د برابروالي نور معیارونه

سربېره پر دې چې باید یو په شرایطو برابر سازمان وي، وړاندیز شوي پروژه باید د پروګرام لاندني په شرایطو د برابروالي معیارونه هم پوره کړي، تر څو غوښتنلیک وړاندې کړای شي:

- خصوصي حریم، مدني حقونه او مدني ازادی: وړاندیز شوي پروژې باید له انفرادي خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني ازادیو ملاتړ وکړي. د کارکړنې پروګرامونه باید د پروژې پلانونه د شخصي پېژندګلنیا وړ معلوماتو (PII) د را ټولولو، د را ټولولو لپاره د هغه مقصد، د دې ډول PII د کارولو او ساتلو لپاره د هغه پلانونه او پر خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني ازادیو باندې هر ډول بالقوه اغېزې او هغه لارې چارې چې غوښتنلیکونه یې د هغو اغېزو د مخنیوي یا کمښت لپاره تر سره کوي او خپلې پروژې په غیرتبعیضي ډول سره مدیریت کوي. هغه غوښتنلیکونه چې پروګرامونه، پروژې او فعالیتونه په داسي بڼه سره تشریح کوي چې په مناسبه توګه سره د خصوصي حریم، مدني حقونو یا مدني ازادیو ملاتړ نه کوي، هغوی به د تمویل لپاره په شرایطو برابر و نه پېژندل شي.
- بشپړتیا: غوښتنلیکونه باید ټولې اړینې برخې (10 برخه، فرعي برخه «د پروژې د روایت د عناصرو عمومي کتنه» او 7 برخه «تمه کېدونکي د سپارلو لاربښوونې، د غوښتنلیک اړین عناصر او د غوښتنلیک د سپارلو سرچینې»)، همداشان د پروژو هغه مشخص شرایط چې دوی یې وړاندیز کوي، له ځان سره ولري. په دې کې د هرې پروژې لپاره د کارکړني اقدامات هم شامل دي (8 برخه، «د پیش بیني شوي غوښتنلیک تګلورې» ووینئ). که چیري یو بشپړ غوښتنلیک وړاندې نه شي یا له الزاماتو څخه د پام وړ انحراف شوی وي، نو ښایي هغه غوښتنلیک په شرایطو برابر و نه ګڼل شي او د هغه بیاکتنه یا ورته نمرې به ور نه کړل شي.
- څېړنه: هغه پروژې چې له تطبیق پرته یوازې څېړنې تر سره کوي، د دې پروګرام له مخې په شرایطو برابرې نه دي. څېړنه یو مهم لګښت دی؛ په هر حال، غوښتنه کوونکي باید د فعالیت د مودې په اوږدو کې د مخنیوي د یوې یا ډېرو وړتیاوو د پلي کولو وړاندیز وکړي، او باید روښانه کړي چې کومه وړاندیز شوي څېړنه په دې تطبیق کې څه ډول مرسته کولای شي. د هرې څېړنې لپاره چې انسان پکې ښکېل وي، مهرباني وکړئ، 11 برخه، فرعي برخه "په څېړنه کې د بشر خونديتوب" تر نظر تېره کړئ.

## د غوښتنلیک تګلوري او مالي تمویل

DHS د شاوخوا $575000 منځنی کچې ورکړې اندازې اټکل کوي. غوښتنه کوونکي د هیله بښونکو کړنو په مسیر کې یوه یا د ډېرو پروژو د بنو لپاره غوښتنه کولای شي، یا کولای شي چې د نوښت په مسیر کې یوه غوښتنه وسپاري. غوښتنه کونکي کولای شي چې د مالي تمویل یو مسیر لپاره یوازې یو غوښتنلیک وسپاري. له همدې امله، د غوښتنلیکونو کم شمېر چې یو غوښتنه کوونکی یې سپارلی شي دوه دی، یعنې د "هیله بښونکو کړنو" او "نوښت" تګلورو لپاره یو یو.

لاندې د مالي تمویل ورکړل شوي اندازې د معیارونو په توګه دي. که پروژه د مالي تمویل د هدف له 25 سلنې څخه لوړېږي، نو غوښتنه کوونکی باید یوه تفصیلي توجیه وسپاري، چې د لوړو لګښتونو ملاتړ کوي. د بېلګې په ډول، یو غوښتنه کوونکی له دوو ډولونو سره د هیله بښونکو کړنو غوښتنلیک وړاندېز کوي، د بېلګې په ډول – "مدني مشارکت" او "د ځوانانو استقامت"، نو دا به د هدف کړنې $150000 مبلغ ولري.

که د هیله بښونکو کړنو تګلورې لپاره غوښتنه کوي، نو غوښتنه کوونکي باید د جزئي تمویل د شتون په صورت کې لګښتونه د پروژې د بنې په پام کې نیولو سره جلا کړي. مهرباني وکړئ، ډاډ تر لاسه کړئ چې ستاسو غوښتنلیک په هر تګلوري او د پروژې په هر ډول کې وړاندې شوي شرایط او نورې لاربښوونې تعقیبوي.

| ټر هدف لاندې مالي مرسته مبلغ/اندازه | د پروژې ډولونه او ټکنالوري |
|---|---|
| **$175,000** | د ټولنیز پوهاوي لوړول |
| **$115,000** | د تاوتریخوالي پر منځپانګه پوهېدل |
| **$60,000** | ولسي ګډون |
| **$90,000** | د ځوانانو استقامت |
| **$350,000** | د چلند اړوند ګواښ ارزونې او د مدیریت ټیمونه |
| **$115,000** | د هغه چا روزنه چې ګډون یې نه وي کړی |
| **$175,000** | د راجع کولو چوپړتیاوې |
| **$230,000** | د جرم د تکرار کمول او بیا ادغام |
| **$300,000 - $815,000** | د نوښت ټکنالوري |

## مقاصد

1.سیمه ییزه ټولنه د دې نښو په اړه پوهاوی لري چې شونې ده یو تن د تاوتریخوالي او د هدفي تاوتریخوالي او ترهګرۍ د ګواښونو پر لاره روان وي.

2.سیمه ییزه ټولنه د هدفي تاوتریخوالي او ترهګرۍ دواړو د خطر د عواملو –او د هغې په وړاندې د خوندیتوب د عواملو – په اړه پوهاوی لري. د خطر عوامل د هغو منفي مشخصاتو په توګه تعریف شوي دي، کوم چې شونې ده دا احتمال زیات کړي چې یو تن د تاوتریخوالي پر لاره روان دی. خوندي کوونکي عوامل د مثبتو مشخصاتو په توګه تعریف شوي دي، کوم چې شونې ده دا احتمال کم کړي چې کېدای شي یو شخص د تاوتریخوالي پر لور ولاړ شي.

3.د سیمه ییزې ټولنې غړي د سیمه ییزو ذینفعانو یوه پراخه او متنوعه ټولګه ښکېلوي، سرچینې او غوره کړنې سره شریکوي او هدفي تاوتریخوالي او ترهګرۍ ته د رسېدنې لپاره باوري شراکت رامنځته کوي.

4.د سیمه ییزې ټولنې غړي کولای شي چې د لارویانو په روزنه کار وکړي او د عامې روغتیا په ټولنه کې د چلند اړوند ګواښ ارزونې او مدیریت (BTAM) د ټیمونو او مخنیوي وړاندې کولو پر دنده (او د اړیکو وسایلو) د پوهېدو پر مټ د تاوتریخوالي پر لور له تګ څخه مخکې د کسانو مرسته وکړي.

5.د سیمه ییزې ټولنې غړي ګڼ رشته اې BTAM ټیمونو ته لاسرسی لري، چې د اروا پوهانو، مربیانو، مذهبي مشرانو، ټولنیزو فعالینو او طبي پرسونل په څېر کسانو څخه جوړ وي، څوک چې کولای شي د تاوتریخوالي د عمل د منځ ته راتلو څخه مخکې د یو چا ملاتړ وکړي.

6.سیمه ییزې ټولنې، د جرم د تکرار د کمښت لپاره د پروګرام جوړولو په ګډون، د هدفي تاوتریخوالي او ترهګرۍ د خطر عواملو ته رسېدګي کوونکي (او د هغې په وړاندې د خوندي کوونکو عواملو پیاوړي کولو) پروګرامونه لري.

# د اضافي TVTP وړیا مرستو سرچینې

- د ورکړې د مدیریت له سیستم (System for Award Management (SAM)) (SAM) سره د ثبت کېدلو څرنګوالی
- د TVTP د وړیا مرستو پاڼه
- د پلې کولو او اندازه کولو پلان: چټک لارښود
- د TVTP وړیا مرستو لپاره د غوښتنې سپارلو ګامونه
- د اضافي وړیا مرستو سرچینې
- د یو EIN تر لاسه کولو څرنګوالی
- له FEMA Go سره د ثبت کېدلو څرنګوالی